مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۳/۱۷

# روږ د لنډیو په هنداره کې

## لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۶۶مه برخه

**د خیټور لالي لهپاره**
**په پیشمني هم دوډۍ ګرمه پخومه**

**د نارینهوو خواري نهشته**
**خواره میرمن ده، پیشرمی تیاروینه**

**د پیشرمي غوندي بيخونده**
**غمجنهژونده په شنهزور دي تیرومه**

سږ هم روږه لکه د تېر په خیر راغله او دا دی د پای ورځې یې دي، خو له نورو کلونو سره یې توپیر په دې کې و چې سږ نا اهلو ګاونډیانو افغانستان او افغانانو ته دوې داسې ستونزې رامنځته کړې چې چا یې وړاندوینه هم نه وه کړې.

په لومړي ګام کې ایران او پاکستان ښایي په ګډ تفاهم سره په یوه وخت کې ګڼشمېر افغان کډوال د تولو نړیوالو نورمونو خلاف په ډلهایز ډول وشړل؛ ان تر دې چې په کوربه هېوادونو کې یې د رنګارنګ سپکاویو ترڅنګ لږې او ډېرې شتهمنۍ هم ورنه واخیستې او کورونه یې ورته وران کړل؛ په ناڅاپي ډول هېواد ته د ګڼشمېر کډوالو راتګ، کوردننه نورې ستونزې هم وزېږولې.

په دویم ګام کې پاکستان د افغانستان پر هوايي حریم تیری وکړ، پرته له کوم دلیل نه یې د افغانستان بېلابېل ښاورنه وویشتل او زموږ ګڼشمېر هېوادوال یې د ژوند له نعمت نه محروم کړل او...

په همداسې حال کې هم زموږ خلکو خپلو دیني مناسکو ته په درناوي سره د یادو ستونزو دروند بار پر اوږو، په لوی صبر او زغم روږه هم ونیوله.

د پښتو ژبې نامتو فولکلوریک ژانر لنډۍ تل په خپله هنداره کې، په ټولنیز ژوند کې روان حالات په روڼ ډول بېرته خلکو ته ورښیي او سونۍ روږه یې هم په ښکلي بڼه انځور کړې ده. ما د تېرو کلونو په څیر، د روږې میاشتې له پیل نه، په روږې پورې اړوند لنډۍ راټولې کړې دي چې ټولې په یووار له تاسو درنو لوستوکو سره شریکوم:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولۍ

چي ستا بيلتون مې خراب نه کړي
د پسرلي روژې مې نه خرابوينه

چي ستا جفا مې خراب نه‌کړي
دغه فرضي روژې مې نه خرابوينه

د خيټور لالي له‌پاره
په پيشمني هم دوډۍ ګرمه پخومه

د پيشمني غړونه‌وشول
له نرۍملا ځخه مې وباسه لاسونه

د نارينه‌وو خواري نه‌شته
خواره مېرمن ده، پيشرمی تياروينه

د روژې هسي نوم پې بد دی
زېږه‌زبېښلي د لالي غمونو کړمه

دا پشرمی، دا روژه‌ماتی
بې له ادکي کله خوند کوي مېئنه

د پيشرمي غوندې بې‌خونده
غمجنه‌ژونده په شنه‌زور دې تېرومه

د روژه‌ماتي غوندې ښکليه
د پيشمني غوندې خپه درپسېيمه

د روزه‌ماتي وخت کې راغلې
زه روژه ماته‌کړم، که تا ته وګورمه

د لارې سر دی، نن مې پرېږده
سبا فرضي روژه پرېږدم، خوله درکومه

د روزه‌ماتي نه پس راشه
ترپيشمني پورې وزګاره ناسته‌يمه

په پيشمني سپوږمی ته ناستيم
روغې رنځورې ورته ستا بيانومه

په پيشمني کې راپه‌ياد شوې
هم په ژړا شوم، هم دوعا درته‌کومه

په بند نمبر دې خاورې‌واوره
د شبکې‌کيسي مې زړه سورۍکوينه

په شپاړسمه روژه راشه
ما به روژه د پيغلتوب خوړلې‌وينه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**په کور او کلي کې غوغا ده**
**دلته په وير دي پيشمي او ماښامونه**

**په پيشړمي دې چبغهوشي**
**هغه دې مړهشي، چې څوک بلازاروينه**

**په روژه ماتي کې راياد شوې**
**هره مړى مې په زړۀ نبغه، نبغه ځينه**

**په پيشمني کې راپه ياد شوې**
**يمهحيران چې ورځ به څنگه تېرومه**

**په مازديگر کې ديدن راوړه**
**چې لوږه تنده د روژې مې ماتهشينه**

**په شوگيرو عادت سړىيم**
**د کلي خلک پيشمني ته پاڅومه**

**په روژهماتي راپهياد شوې**
**په دسترخوان گوتېوهم، ژړا راځينه**

**په بخت بيدار لالي ته وايه**
**په روژهماتي دوعا ستا سرته کومه**

**پر ما تاثير د روژې نۀ دى**
**ما ژړوي دا بې جانانه ماښامونه**

**روژه خو هرماښام ماتېږي**
**ستا د بېلتون روژه به کلهماتومه**

**رنځورهياره، رنځ دې ورکشه**
**روژه نيوى شې، که غنم دې وباسمه**

**راځه ترڅنگ مو گاوندىشه**
**په پيشمني کې به دېوال درټکومه**

**روژه به بيا په وطن راشي**
**خاورو تلليخلک ببرته نهراځينه**

**روژه د صبر پېژندل دى**
**زما بېصبرزړکى بيا تا يادوينه**

**روژه خو راغله، جانان نهشته**
**د پيشمني مسيج به څوک راته کوينه**

**روژ خو راغله، ته رانغلې**
**د پيشمني اور ته يوازې ويرکومه**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**زما اولکال د روژې دی**
**پرنرمو شونډو ژبه بار، بار تېرومه**

**زه به روژې نیسم جانانه**
**ته تهجد لمونځونه که، چې یوځای‌شونه**

**له نصواري سره مې ژوند دی**
**تـولـه روژه رابـانـدې ګډه‌وډه شـيـنـه**

**لکه چې وخت د پیشمي شو**
**له هرې خوانه د بنګړو شرنګا راځینه**

**لالی مې کلک په خوب ویده دی**
**پـیشمی تېرشو، ملا وکــړل اذانــونه**

**میاشت د روژې شپه د جمعې ده**
**خلک جنت غواړي زه ستا کوم خواستونه**

**میاشت د روژې ده، سوال قبلېږي**
**چې مظلوم خلک ازاروي، تباه دې شينه**

**میاشت ده روژې، شپه ده جومې ده**
**څوک چی د چا ارمان لری، نصیب دې‌شینه**

**میاشت د روژې، شپه د جمعې ده**
**خلک جنت‌غواړي، زه ستا کوم خواستونه**

**مسافرۍ کې مې روژه ده**
**ادې مې مړه ده، هره شپه ژړا راځینه**

**سم روژه‌ماتي کې راپېښ شوې**
**زه روژه‌ماته کم، که تا ته وګورمه**

**سبز مې دې یار سرسایه ورکړي**
**بله روژه کې به د یار په څنګ کې یمه**

**سبا روژه ده، سوال قبلېږي**
**خلکه زما په حق کې پورته‌کړۍلاسونه**

**سوال بې ولې نه‌قبلېږي**
**چې په ماشومه خوله‌ی روژې نیولې‌دینه**

**سبا به دا محال روژه وي**
**جانانه به وچې شونډې ګرځي، زړه مې چوینه**

**سبز مې دې پلار سرسایه ورکړي**
**بله روژه کې به د یار په څنګ کې ومه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ستا له دیدنه مې روژه ده
د صبرېدو تراویح هره شپه کومه

شونډې مې تا پسې وچېږي
خلکو ته وایم ثوابي روژه لرمه

غرق‌شې روژه به کړې خرابه
له پیشړمي نه وروسته مه‌راوړه لاسونه

غرق‌شې اذان راباندې وشو
د غبرګ‌خوند دې پیشمني نه وویستمه

ته په روژه کې مرورشوې
د تراوو رکعات به ځوک راته شمېرینه

تېره روژه کې راسره وې
سږ نصیب داسې چې بې‌تا یې تېرومه

تر پیشمني به درسره یم
د ورځې نه‌کېږي جوړه، جوړه خوبونه

ته له ملا نه ټپوس وکړه
که په خولګۍ روژه ماتېږي، غرقه‌یمه

که په دیدن روژه ماتېږي
زه به دا ټولې روژې بیا نیسم مېڼه

که دې په کوزکلي کې کور وي
زما شیرین‌جانان ته وایه سلامونه

کلي ته کله راځې یاره
په ځوارلسم خو روژه واوښته‌مېڼه

که په دیدن روژه ماتېږي
ما به دا ستا په دیدن دېرش خوړلې‌وینه

یار په سفرځي، خوله به ورکړم
روژه دې ماته شي، شپیته به ونیسمه

یوه روژه ده، بل سفر دی
اشنا کمزوری دی، لکړه لګوینه

یار مې روژه کې خولګۍ غواړي
عالمه راشئ، د دین خونې ورانوینه

فرضي روژه ده، کرار کېنه
چې اختر راشي، بیا دې هر خبر منمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**خدایه دیورند لهمنځه یوسي**
**چې روژهماتی د کابل په اذانشینه**

**جانان نادان دی، غاړهغواړي**
**په پیشمني کې غاړه چا ورکړيوینه**

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

[http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95](http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ